# مور د جنازې پسې له تګ څخه منع شوي يو، خو زيات ټينګار راباندې ندی شوی

له أم عطية رضی الله عنها څخه روايت دی وايي چې: مور د جنازې پسې له تګ څخه منع شوي يو، خو زيات ټينګار راباندې ندی شوی.
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

أم عطية الأنصارية رضي الله عنها وايي چې نبي صلى الله عليه وسلم ښځې د جنازې پسې له تلو څخه منع کړې دي؛ ځکه وېره شته چې دوی په فتنه کې واقع شي او يا د دوی له امله نور په فتنه کې واقع شي، او دا چې دوی کم صبره دي، بيا هغې رضي الله عنها ووېل چې نبي صلى الله عليه وسلم پدې اړه دومره ټينګار ندی کړی لکه څومره به يې چې په نورو منهياتو کې کاوه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3228